مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال

۲۰۲۳/۱۲/۱۲

# تخیل:

# د ژبې، اسطورو، فیلوسوفي، هنر او پوهې ترمنځ

د خیال، تخیل او تخییل په اړه ګڼ بحثونه شوي، خیال د ناریښتینو ښکارندو ذهني انځور دی، چې د تخیل په مرسته مانا مومي او هرکله چې یو تخیل بل وګړي ته ورلېږدي او د قراردادي نښو په وسیله یې هغه هم په ذهن کې انځورولای شي، د خیال و تخیل دغه لېږد ته تخییل ویل کیږي.

لاتراوسه فکر کیږي، چې دا دري سره پړاوونه د انسان ځانګړنه ده .د ژویو او ان بوټو یوه پرمختللې عصب پېژانده نیورولوژیکه (Neurological) «څېړنه ښايي دا ومومي، چې هغوی هم خیال لرلای شي، که نه؟

د تخیل په اړه مو د ګڼو پېژندونو له منځه یو دا هم لوستی یا اورېدلی، چې: «تخیل د هغو څیزونو یا فکرونو Ideas تصور دی، چې زموږ په چاپېریال کې نهشته، ځیني خو تر دې هم وړاندې تللي او وايي: تخیل په ذهن کې د هغو څیزونو انځورول دي، چې بهرنی وجود نهلري.»

کیسه له همدې ساده پېژند څخه راچوره ده. مهمه پوښتنه دا ده، چې زموږ په ذهن کې داسې څه انځورېږي، چې بهرنی وجود نهلري؟ یا یې موږ د لومړني وجود په اړه پوهه نهلرو؟ یا مو یې نوم اورېدلی نهدی؟

افلاتون ښايي خپله د مُثل نظریه له همدې پوښتنې رامنځته کړه، هغه وايي: د هستي هر توک یو لومړنی قالب لري، دغه قالب لومړني هستوونکي جوړ کړی دی. په ټوله هستی کې هیڅه داسې نهشته، چې د لومړني هستوونکي له قالبونو دې بهر وي. برکلي Berkeley ویل: لومړني قالبونه د څیزونو تصورات دي، چې د څښتن په تفکر کې د هغوی تر خلقت وړاندې لا موجود وو/ دي.

هغه څه، چې زموږ په چاپېریال کې نهشته یا بهرنی وجود نهلري، خامخا نوم هم نهلري، چې نوم نهلري مانا و مفهوم نهلري، هر هغه څه چې مانا و مفهوم/ ژبنی هویت (نوم) او لومړنی مُثلي قالب نهلري هیڅکله انساني خیال ته لار موندلای نهشي.

د ټولې هستي توکي د زړبېلګو (Archetypes) په بڼه داسې د ټول بشریت په ګډه تاریخي ناخوداګاه کې زېرمه دي، لکه د رغېدلې ځیرکتیا لوګاریتمیک کوډونه.

نو:

تخیل د هستی د هغو توکونو د ناریښتیني یوځایکېدو تصور دی، چې شته.

دا تخیل وګڼئ، چې څوک وايي: « ستا د سترګو په وحشي اسونو الوځم اسمان ته» ښکلی تخیل دی. د سترګو وحشي اسونه ریښتیني نهدي، بلکې یو شاعرانه ترکیبي انځور دی. اس الوتلای نهشي، خو تخییل یې کېدلای شي، اسمان ته وررسېدل هم ناریښتیني دي، خو تخیل یې شونی دی. د پېژند دا برخه سمه ده، چې « د سترګو وحشي اسونه» او «پر هغو اسمان ته الوتل» زموږ په چاپېریال کې عیني وجود نهلري. خو د دغه پراخ تخیل توکي ټول شته.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

«سترګې»، «اسونه»، « الوتل»، «اسمان»، «مخاطب = معشوقه» او «شاعر» ټول پېژنو، نومونه يې په ژبه کې مانا ښندي او موږ يې له لومړنۍ مُثلي هستۍ او قالبونو سره اشنا يو.

دلته نو د خپل بحث منځنۍ او اصلي پوښتنې ته رارسېږو:

«ايا انسان داسې څه تخيل کولای شي، چې هېڅ بهرنی مجرد وجود ونه‌لري؟ مانا مُثلي قالب يې نه‌وي، په ژبه کې هېڅ نوم مانا ورونه‌ښنلای شي. په مجرده بڼه د يوه «څيز» په توګه هېڅ نه وی هست شوی؟»

له يوه بله اړخه:

د اسطورو په اړه يوه مهمه تيوري دا ده، چې د اسطورو زېږدا لا هم روانه ده. اسطورې د انسان همزولې دي او د انسان تر روستي پايښت پورې به رامنځته کيږي. اوسمهال په زېږنده اسطورو کې له زمکې بهر له نورو ستوريو څخه د راغليو ژونديو موجوداتو يا په نورو ستوريو کې د ژوند او ژونديو شتون دی. دا اسطورې دومره مهمې دي، چې هم د ناسا په علمي بحثونو کې شته او هم د زړې انا په خيالي داستانونو کې.

له زمکې بهر د ژونديو موجوداتو شتون نه ځوک منلای شي او نه يې ردولای. خو ميليونونه انسانان پرې فکر کوي، ايا تر موږ پرته نور مخلوقات هم شته؟

په دې اړه پريمانه ليکل شوي، فيلم شوي يا انيمېشن شوي متنونه شته Extraterrestrial life .يا تر زمکې بهر ژوند هم علمي بحث دی، هم فيلوسوفيک، هم اساطيري Mythological ، هم هنري و ژبنی. چا لاتراوسه ليدلي نه‌دي، يا ښه به وي ووايم شتون يې تجربه شوی نه‌دی، خو ګورو چې په ژبه کې نوم ورته شته او موږ پرې خبرې کوو .په زړه پورې دا ده، چې ټول هغه ليکلي، فيلم شوي، ګرافيک شوي او تصور شوي موجودات داسې تخيل شوي، چې قالبي هستي يې د زمکې د هغو موجوداتو کاپي ده، چې موږ يې پېژنو. لاسونه او پښې لري، سترګې، خوله او سر و تنه .ښايي تنه يې لنډه يا اوږده وي، پوزه يې غټه يا کوشنۍ وي، سترګې يې بل ډول، خوله يې لويه، پوټکی يې روڼ او سر يې چخپيت، خو موږ بل څه تصور کولای نه شو.

ولې بايد هرومرو تر زمکې بهر موجودات زموږ په شان وي؟

ايا تخيل کولای شو، چې له زمکې بهر دې يو موجود وي، خو سترګې دې ونه‌لري، غوږونه، پوزه، خوله، لاس و پښې دې ونه‌لري، خو ليدل، اورېدل، تلل و خوځېدل دې وکړلای شي؟ هغه څنګه؟ په څه؟

يا (ليدل، اورېدل، پوهېدل) دې ونه‌لري، بلکې بل ډول موجودات دې وي؟ داسې تصور کړلای نه شو، ځکه موږ نه پوهېږو څه وايو؟ ژبه مرسته نه راسره کوي. ولې؟ ځکه په ژبه کې داسې مفهوم نه‌ورته لرو.

هغه څه چې بايد تخيل يې کړو، نه‌ورته نوم لرو، نه مفهوم، نه هم د مُثلي قالب هستي، ځکه يې خيال او تخيل هم نه شته.

اورېدلي مو دي، چې د ساينس لومړنۍ تجربې په لومړي سر کې فرضيې وې او تر فرضيو مخکې تخيل و. انسانانو تخيل کاوه چې الوځي، دا تخيل يې په هيله بدل شو، هڅه يې وکړه او د الوتلو فرضيه يې رامنځته کړه، بيا يې له پوهې (ساينس) څخه مرسته وغوښته، الوتکه او د الوتلو نور وسايل يې جوړ کړل. په دې ټول بهير کې الوتونکي مرغان د زړبېلګې يا مُثلي قالب په توګه ورسره و. الوتکه د مرغه کاپي ده، هماغسې چې مرغه د خپل لومړني مُثلي قالب کاپي دی.

که انسان (سترګه) نه پېژندلی، د کامرې او عکس اخيستلو تخيل يې هيڅکله په علمي فرضيه او بيا ساينسي واقعيت بدلولای نه شو.

په زړو اسطورو کې لولو، چې بابلي، مصري، هيندي، يوناني او رومي خدايګوټو د انسانانو بڼې درلودې، ځکه هغه مهال چې انسانانو خپل دغه خدايان د خپل تخيل په مرسته راپنځول يوازې يې انسان پېژاند، بل څه يې تخيل کولای نه شو. خدايګوټو د انسانانو بڼې لرلې، خو پياوړي او فوق‌العاده وو. بابلي/ اشوري شمش، مصري امون، هيندي ديائوس يا ده‌ئوس، يوناني زيئوس، رومي ژوپيټېر، هيندي ګڼيش او کريشنا او نور يا د انسان په بڼه و، يا نيمه انسان او يا د ژوي په بڼه .پان ) په يوناني ( Πάνد اوزې پښې لرلې، ګڼيش د پيل په بڼه و او ابوالهول Sphinx د زمري جسم او د انسان سر درلود.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

هېڅ ولس داسې خدایګوټی (رب‌النوع) تخیل نه کړلای شو، چې تجسم یې د هغه په ګډه ناخوداګاه یا د زړبېلګو په زېرمه کې نه‌وي. یا داسې څه وي، چې زړبېلګه Archetype یې له موږ سره نه‌وي.

په ریاضیاتو او فیزیک کې (لایتناهي) مفهوم تر هغې پولې روسته راپیلیږي، چې د انسان تخیل نور نه‌شي وررسېدلی. انسان د پراخه کایناتو یوه برخه په سترګو ویني، تر هغه روسته یې د تکنولوژي په مرسته لیدلای شي، د تکنولوژي تر لاسرسي بهر یې د علمي مشاهداتو په بنه پېژني، تر دې هم هاخوا یې د تخیل په توګه تصور کوي، خو چې له تخیل څخه یې هم بهر شي، هغه بیا لایتناهی بولي. لایتناهي یعنې: زه هم نور پرې پوهېدلای نه شم.

څو ورځې وړاندې مې د ګازي ستوري (مشتري) په اړه یو علمي راپور وکوت. مشتري د شمسي نظام لوی ستوری دی، چې لویه برخه یې له ګازونو جوړه ده، مشتري ناکام ستوری بولي، ځکه د ګازونو یو غونډاری دی او بشپړ جامد شوی ستوری نه‌دی. په راپور کې راغلي و، چې د مشتري هسته د اوبلنو، جامدو او ګازي توکو یوه مجموعه ده، موږ نه پوهیږو، چې دې ته څه نوم ورکړو؟ ځکه نه بشپړ ګاز، نه بشپړ جامد، نه بشپړ اوبلن (مایع) څه دي، دا چې څه دي سخته ده، چې ځواب ورکړو.

انساني پوهه به یومهال د مشتري هسته وپېژندلای شي، که نه؟ خدای خبر دی. خو هغه څه چې ما ته په زړه پورې و دا دی، چې ان ساینسي تخیل هم مرسته کړلای نه‌شي، چې د انسان په ګډه ناخوداګاهي زېرمه کې داسې نوم او مفهوم ومونډلای شي، چې په زړبېلګو یا مُثلي قالبونو کې یې بېلګه نه‌وي.

زموږ د تخیل کړۍ (دایره) هماغومره ده، چې موږ فکر کوو، فکر مو هماغومره دی، چې موږ له دې کایناتو څخه د پېژند هڅه کړې ده. حقیقت زموږ تر فکر و تخیل ډېر لوی او پراخ دی. خپل فکر او تخیل ته اجازه ورکړئ، چې پراخ شي او تر هغو بریدونو هم واوړي، چې تاسو ته یې ټاکلي دي. د تخیل او تفکر له لرې لرې تللو څخه مه ویرېږئ. پراخ تفکر او لرې تللی تخیل کفر نه‌دی، بلکې ستاسو د لوی معرفت لپاره لار هواروي.

**ویښتیا، روښانتیا او بدلون**





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ